مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اځر ۲۰۲۵/۰۴/۰۸

# د یهودو عادلانه جګړې

(اووه اویایمه برخه)

**د عربو او اسراییلو جګړې**

**د حماس او اسراییلو جګړه، د اکتوبر ۷مه، ۲۰۲۳ز. کال. (۶)**

**د حماس او حزب‌الله مشرانو وژل او د ایران دویم راکټي برید**

د غزې جګړه همداسي روانه وه چي اسراییلو یو بل احمقانه، ناځوانه، ترهګر او پاروونکی عمل، دننه په ایران کي ترسره کړ چي له امله یې ایران بیا ځلي اړ شو پر اسراییلو د تېر په څېر پر اسراییلو برید وکړي، هغه مهال چي د حماس د سیاسي دفتر مشر **(اسماعیل هنیه)** له قطر څخه د ایران د نوي ولسمشر مسعود پزشکیان د لوړې په مراسمو کي د ګډون لپاره تهران ته وخوځېد او د ولسمشرۍ د لوړې له مراسمو وروسته، **د تهران د امام علي په پوځي ميلمستون کي د اسراییلو لخوا په یو هوایي برید کي ترور شو.** (د جولای ۳۱مه، ۲۰۲۴ز. کال)
**د اسماعیل هنیه له ترور وراندي د هغه درې تنه زامن او څلور تنه لمسیان د صهیونستي ترهګر پوځ لخوا په غزه کي وژل شوي وو.**
اسماعیل هنیه د خپل شهادت څخه څو ساعته وړاندي د ایران له دیني مشر سیدعلي خامنه‌ای سره هم لیدنه کړې وه. ایرانیانو د هنیه د وژني د غچ اخیستلو کلکه ژمنه وکړه.
په داسي حال کي چي د غزې جګړې دوام درلود، اسراییلو د ۲۰۲۴ز. کال د سپتمبر په ۲۰مه نېټه په لبنان کي د حزب‌الله پر ځوکیو بریدونو ته زور ورکړ او د سپتمبر په ۲۷مه نېټه یې د بیروت په سوېل کي د حزب‌الله د قوماندې پر مرکز هوایي برید وکړ چي د حزب‌الله مشر **(حسن نصرالله)** په کي ووژل شو.
هغه وو چي د ایران هوایي او راکټي ځواکونو د یمن حوثیانو او په لبنان کي د حزب‌الله پر ملاتړ د اسماعیل هنیه له وژل کیدو دوه میاشتي وروسته او په لبنان کي د حزب‌الله د مشر حسن نصرالله له وژل کیدو درې ورځي وروسته، د ۲۰۲۴ز. کال د اکتوبر په لومړی نېټه، د **(وعده صادق۲)** په نوم بریدونه تر سره کړل، دا بریدونه د تهران، کاشان، تبریز، شیراز او کرمانشاه له شاوخوا څخه په لړترلړه دوو څپو کي، د ۲۰۰ بالیستیک توغندیو په توغولو سره ترسره شول چي په کي د فتاح او خیبرشکن هایپرسونیک توغندي شامل وو او یوازې پوځي مرکزونه یې په نښه کړل.
د بریدونو موخي د اسراییلو د استخباراتو د موساد مرکز، درې مهم هوایي ډګرونه، د رادارو مرکزونه، د شوبلو (ټانکونو) او زغره‌والو ګاډو د راټولېدو مرکزونه وو. د ایران سپاه پاسداران وایي چي ۹۰ سلنه توغندي په بریالیتوب سره خپلو موخو ته رسېدلي دي.

بیلابیلو راپورونو کي ویل شوي چي په بیت المقدس کي د خطر زنګونه غږول شوي او د دې ښار په اړه د (اوسپنیزې ګومبزې) هوایي دفاعي سیستم فعال شوی دی. هغه انځورونه چي د بیت المقدس څخه په ژوندی بڼه خپاره شوي، ښیي چي د دې ښار په آسمان کي څو چاودني شوې دي چي د اسراییلو د اوسپنیزې ګومبزې د فعالېدو له امله دي.

دوو امریکایي مقاماتو تایید کړه چي د دې هېواد پوځ توانېدلی چي د ایران څو بې‌پیلوټه الوتکي چي د اسراییلو پر لور خوځول شوي وې، راښکته کړي... په ورته وخت کي، راپورونه وایي چي په سوېلي او مرکزي اسراییلو کي د خطر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زنګونه هم غږول شوي دي. په بیت المقدس کې د فرانس پریس خبریال وایي چې په دې ښار کې د چاودنو او زنګونو غږونه اورېدل شوي دي.[1]

اسراییلو ادعا وکړه چې د ایران د بالستیک توغندیو او بې‌پیلوټه الوتکو مخه یې ډب کړي. خو دا یې منلي چې یو شمېر بالستیک توغندي (نواتیم) هوایي اډې سره نږدې نښتي دي.

د دې برید په اړه د اسراییلو او د هغه متحد امریکا ځرګندوني د ایران له ځرګندونو سره توپیر لري. ایران خپل برید بریالی وباله چې پراخ زیانونه یې اړولي. په داسې حال کې چې اسراییلو او امریکا دا برید ناکام وباله.

د سپاه پاسداران د بیان له مخې، ایران ۲۰۰ بالیستیک توغندي د اسراییلو پر لور توغولي دي. (صدا) او (سیما) خبري رسنیو د سپاه پاسداران د بیان پر بنسټ اعلان کړی چې له فتاح-۱ هایپرسونیک توغندي، د بالیستیک توغندیو نوی ډول او د عماد او قدر-۱ منځ واټن بالیستیک توغندیو څخه یې کار اخیستی دی.

**د شته راپورونو او ویډیوګانو له مخې، ایران د نواتیم هوایي اډه، رخووت ښار ته نږدې د تل نوف هوایي اډه او احتمالاً په تل ابیب کې د موساد مرکز او د تل ابیب او بیت المقدس په دننه او شاوخوا کې نور ځایونه په نښه کړي دي.**

اسراییلو لومړی وویل چې دا شمېر ۱۸۰ توغندي وو خو وروسته یې دغه شمېر ۲۰۰ ته لوړ کړ. دا شمېر د هغو بالیستیک توغندیو څخه نږدې دوه برابره دی چې ایران په لومړي برید کې پر اسراییلو توغولي وو.

**امریکایانو او انګرېزانو د دې برید په مخنیوي کې ومنله چې په ختیځه مدیترانه کې له خپلو دوو تولیو بېړیو (ارلي بورک) څخه یې ۱۲ دافع هوا توغندي (احتمالاً سټنډرډ ۳ توغندي) د ایران لخوا د توغول شویو توغندیو پر لور ویشتلي دي. د برتانیې دفاع وزارت هم ویلي چې د اسراییلو په دفاع کې یې خپله ونډه ترسره کړې ده.**[2]

لکه چې پوهېږو اسراییل هڅکله په جګړه کې وراوښتي زیانونه نه ځرګندوي او تل یې خپل زیانونه پټ کړي دي، رښتیا دا دي چې په ویډیوګانو کې لیدل کیږي چې یو شمېر توغندي د اسراییلو په ښارونو کې لګیږي او چاودني رامنځ ته کوي. اسراییل د خپل عادت له مخې داسې درواغ وایي لکه لمر چې په ګوتو پټوئ.

له دې برید وروسته، د ایران په بېلابېلو ښارونو او د اردن[3]، عراق او غزې په څېر د ځینو هېوادونو وګړو خوښي ځرګنده کړه. د یمن انصارالله غورځنګ، د لبنان حزب الله، د عراق حشدالشعبي، د حماس غورځنګ او د فلسطین اسلامي جهاد په څېر د مقاومت ډلو دا بریدونه وستایل خو د اسراییلو ملاترو هېوادونو لکه امریکا، فرانسه، جرمنی، جاپان او کاناډا د ایران بریدونه وغندل او د اسراییلو ملاتړ یې وکړ.[4]

د ایران د سپاه پاسداران قوماندان وویل، له دې وروسته به موږ د ایران له خوا هر برید ته چې اسراییل یې زموږ په ګټو یا خلکو باندې وکړي، وړ ځواب ووایو. په همدې حال کې د اسراییلو د دفاع وزیر، (یوآو ګالانت) وویل چې د ایران برید مخه نیول شوې خو مقابله لا پای ته نه ده رسېدلې.

پر اسراییلو د ایران د (وعدهٔ صادق۲) د برید په غبرګون کې اسراییلي صهیونستانو غوښتل چې د ایران د یورانیمو د غني کولو (اتومي) تاسیساتو باندې هوایي یا راکټي بریدونه وکړي خو«د امریکا ولسمشر جو بایډن، د اسراییلو لومړي وزیر، بنیامین نتانیاهو ته وویل که چېرې اسراییل د ځوابي عملیاتو پلان لري، امریکا به په کې ګډون ونه کړي. جوبایډن

---

[1]: بي‌بي‌سي، فارسي.

[2]: bbc.com/persian/articles/c93pdp7gxk9o

[3]: داسې ښکاري چې د اردن پاچاهي حکومت په خپل تېر عمل چې د اسراییلو په ننګه یې په خپل هوایي حریم کې د ایران د توغندیو مخه نیولې وه، پښېمان شوی وي چې دا ځل یې د ایران د توغندیو مخه ونه نیوله.

[4]:https://fa.wikishia.net/view


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا هم ويلي چې هغه د ایران د اټومي تاسیساتو پر وړاندې د برید مخالف دی. اروپایي اتحادیې، چین او نورو هېوادونو هم غوښتنه کړې چې دواړه خواوې باید احتیاط وکړي.

د اسراییلو صهیونیستي پوځ د ۲۰۲۴ز. کال د اکتوبر په ۲۶مه نېټه د ایران د بریدونو په ځواب کې، د تهران، خوزستان او ایلام ولایتونو پر پوځي مرکزونو څو هوایي بریدونه وکړل.

نېټه:۱۴۰۴/۱/۱۹ل. ل

**نور بیا**

[د ښاغلی محمد انور اخګر نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ